# د افغانستان اسلامي امارت
## دارشاد، حج او اوقافو وزارت
## دمساجدو دارشاد او انسجام رياست
## دارشاد او دعوت آمريت
## دخطبو دتنظيم عمومي مديريت

**د جمعې دخطبې لاربنود مؤرخ:۱۴۴۴/۱/۷هجری قمری مطابق۱۴۰۱/۵/۱۴هجری شمسی**

# د عاشوراء د ورځې فضائل او مسائل

**الحمد لله الذى جعل لعباده مواسم يتقربون اليه فيها بأنواع الطاعات فيغفر لهم الذنوب ويرفع لهم الدرجات، وأشهد أن لا إله إلاالله، حكم فقدر، وشرع فيسر ولايزال يفيض على عباده من انواع البروالبركات، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله سابق إلى الخيرات، صلى الله عليه وعلى آله واصحابه الذين كانوا يحافظون على طاعة ربهم فى جميع الاوقات وسلم تسليماً كثيراً** وبعد.

**متدينو مسلمانانو!**

مونږ د عزتمنو مياشتو له جملې څخه په هغه مياشت کې قرار لرو چې په دين کې لوړ مقام لري چې د محرم الحرام مياشت څخه عبارت دی او دهجري قمري کال لومړنی مياشت ده.

دا مياشت داسلام په تاريخ کې لوی مقام لري، عاشوراء يا دمحرم لسمه ورځ دبشريت تاريخ بالخصوص داسلامي تاريخ سره تړاو لري.

هغه حوادث او واقعات چې دتاريخ په اوږدو کې په دی ورځ کې واقع شوی دي د باطل په مقابل کې دحق په کاميابی،دظلم اواستبداد دتېغر په تېوليدو،دظالمانو دمنگولو څخه دمظلومانوپه خلاصون دلالت کوي.

**د عاشوراء فضائل:**

**په حديث شريف کې راځي: (عن أبن عباس رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قدم المدينة فوجد اليهود صياماً يوم عاشورا، فقال لهم رسول الله صلى الله عليه وسلم :ماهذا اليوم الذى تصومونه ؟ فقالوا:هذايوم عظيم ، أنجى الله فيه موسى وقومه وغرق فرعون وقومه ، فصامه موسى شكراً فنحن نصومه، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم :«فنحن أحق وأولى بموسى منكم» فصامه رسول الله، وأمربصيامه، وفى رواية:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :«فان كان العام المقبل إن شاء الله صمنااليوم التاسع » صحيح مسلم**

**ترجمه :** په صحيح مسلم کې راغلي دي چې کله پيغمبر عليه السلام مدينې منورې ته راغی وه ليدل چې يهودان روژه دي، پيغمبرعليه السلام ددوی څخه ددې ورځې د روژې دعلت په اړه پښتنه وکړه. هغوی وويل: ورته وويل: عاشوراء هغه عظيمه ورځ ده چې الله تعالی په کې موسی عليه السلام ته دفرعون څخه نجات ورکړ او فرعون يي په کې هلاك کړ موسی عليه السلام په دغه ورځ کې دنعمت دشکر اداء کولو په نيت روژه ونيوله او مونږ هم روژه نيسو. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: مونږ له تاسو څخه دموسی عليه السلام پسې داقتداء کولو زيات حقدار يو بيا پيغمبرعليه السلام خپله هم روژه ونيوله او نورو ته يي هم د روژې د نيولو امر وکړ.

په يو بل روايت کې راځي: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: په راتلونکي کال کې به ان شاء الله ديهودو سره دمخالفت لپاره دمحرم په نهمه ورځ هم روژه نيسو.

همدا راز دمحرم او عاشوراء د روژې د فضيلت په اړه په حديث کې راځي: (**عن أبي هريرة رضي الله عنه : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : (أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمُ). رواه مسلم**

**ترجمه:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: د الله رسول صلی الله عليه وسلم و فرمايل : د رمضان د مياشتې څخه وروسته ترټولو غوره روژه د محرم الله د مياشتې روژه ده .

د عاشوراء د روژې د فضيلت په اړه په حديث شريف کې راځي: **عن أبي قتادة رضي الله عنه : (أَنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم سُئِلَ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ فَقَالَ: يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ) رواه مسلم**

**ترجمه:** له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د عاشورا د روژې په هکله پوښتنه وشوه، نو ده وفرمايل: دا روژه د تير کال ګناهونه رژوي .

په يو بل حديث کې راځي: (**عن ابن عباس رضي الله عنهما قال : مَا رَأَيتُ النَّبِي صلى الله عليه وسلم يتَحَرَّي صِيامَ يوْمٍ فَضَّلَهُ على غيرِهِ إِلَّا هَذَا اليوم، يوْمَ عَاشُورَاءَ . رواه البخاري**

**ترجمه:** له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي: ما د الله رسول صلی الله عليه وسلم نه دی ليدلی چې د عاشورا له ورځې څخه د غوره ورځې د روژې په پلټنه کې وي ( دې روژې ته يې ډير غوره والی ورکاوه ).
د عاشوراء د ورځې روژه نيول د پيغمبرانو څخه راپاتی سنت دي.

په يو حديث شريف کې راځي:(**عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال: (يوم عاشوراء كانت تصومه الأنبياء فصوموه أنتم) مصنف ابن أبي شيبة**

په عاشوراء کې درسول الله صلی الله عليه وسلم روژه نيول څلور حالتونه درلودل:

لومړی حالت: رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه مکرمه کې دعاشوراء روژه نيوله خو بل چاته يي د روژې په نيولو امر نه کولو. **عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: (كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ) صحيح البخاري**

**ترجمه:**د حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه فرمايي عاشوراء هغه ورځ ده چې د جاهليت په زمانه قريشو به په دې ورځ روژه نيوله او رسول الله صلی الله عليه وسلم به هم روژه نيوله کله چې مدينې منورې ته راغی خپله يې هم رژوه نيوله او نورو ته به يې هم د روژې نيولو امر کاوه.

**دوهم حالت:** کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته هجرت وکړ او وه ليدل چې اهل کتاب ددې ورځې روژه نيسي او ددې ورځې درناوی کوي، خپله به يې هم روژه نيوله او نورو خلکو ته به هم ددې ورځې د روژ په نيولو امر کولو.

**عن ابن عباس قال قدم النبي -صلى الله عليه وسلم- المدينة فرأى اليهود تصوم عاشوراء فقال ما هذا قالوا يومٌ صالحٌ نجى الله فيه موسى وبني إسرائيل من عدوهم فصامه موسى فقال أنا أحق بموسى منكم فصامه وأمر بصيامه)**

**وفي حديث سفيان عن أيوب فقال لهم رسول الله -صلى الله عليه وسلم-:( ما هذا اليوم الذي تصومونه قالوا هذا يومٌ عظيمٌ أنجى الله فيه موسى وقومه وغرق فرعون وقومه فصامه موسى شكراً لله فنحن نصومه فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فنحن أحق وأولى بموسى منكم فصامه رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وأمر بصيامه) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم للحميدى**

**دريیم حالت:** کله چې د رمضان المبارك روژه فرض شوه،پيغمبرعليه السلام د عاشوراء روژه نيولو باندې تاکيد او امر کول پريښودل.

**عن ابن عمر قال صام رسول الله -صلى الله عليه وسلم- عاشوراء وأمر أصحابه بصيامه فلما فرض رمضان ترك) الجمع بين الصحيحين**

**ترجمه:**د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به دعاشوراء روژه نيوله او خپلو اصحابو ته به يې هم دعاشوراء د روژې په نيولو امر کاوه، کله چې درمضان روژه فرض شوه، دعاشوراء روژې يې پريښودی.

**عن جابر بن سمرة قال: (كان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يأمرنا بصيام يوم عاشوراء ويحثنا عليه، ويتعاهدنا عنده فلما فرض رمضان لم يأمرنا ولم ينهنا عنه ولم يتعاهدنا عنده) الجمع بين الصحيحين**

**څلورم حالت**: رسول الله صلی الله عليه وسلم په آخري عمر کې دا قصد وکړ چې ديهودانو سره دمخالفت په وجه به ورسره يوه ورځ بله هم ضم کړي . رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چې مونږ په راتلونکي کال کې دعاشوراء او دمحرم د نهمې ورځې روژه نيسو.

**عن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما يقول حين صام رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم عاشوراء وأمر بصيامه قالوا يا رسول الله إنه يوم تعظمه اليهود والنصارى فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فإذا كان العام المقبل إن شاء الله صمنا اليوم التاسع قال فلم يأت العام المقبل حتى توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم) صحيح مسلم – [باختصار عن لطائف المعارف لابن رجب]**

بناءً هرمسلمان ته ښايي چې د محرم الحرام درى ورځې روژې چې يوه ورځ د عاشوراءڅخه مخکې نهم تاريخ دمحرم او يوه ورځ وروسته يولسم تاريخ د محرم دې روژه نيسي ياداچې نهمه اولسمه ورځ دې روژه ونيسي- يا دې لسمه او يولسمه ورځ روژه ونيسي.ترڅو هغه ګټې او فائدې چې لاندې بيانيږي خپلې کړي:

۱- د يوى مياشتې روژو ثواب به يي په برخه شي.

الله تعالى ديوى نيکۍ عوض يو په لسو ورکوي ، څوک چې د محرم الحرام درى ورځې روژې ونيسي ، ديوى مياشتې روژو ثواب به يي نصيب شي. په همدې اساس رسول الله صلى الله عليه وسلم به په هره مياشت کې درى ورځې روژې نيولى او صحابه ؤ ته به ددې روژو په نيولو ترغيبي امر کاوه.

۲- د رمضان المبارک د روژو څخه وروسته ترټولو غوره روژې دمحرم الحرام روژې دي.

لکه څرنګه چې مخکې يو حديث کې ذکر شول چې د رمضان المبارک څخه وروسته ترټولو غوره روژې دمحرم الحرام روژې دي.

۳- ديهودو سره مخالفت.

د محرم الحرام په نهم ، لسم او يولسم تاريخ روژې نيول ، ديهودو سره مخالفت رامنځ ته کيږي او ديهودو سره مخالفت داسلام دمقدس دين له خصوصيتونو څخه دي.

۴- درسول الله صلى الله عليه وسلم پيروي او متابعت.

په دغو درى ورځو روژو کې درسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو پيروى حاصليږي.

الله تعالى فرمايي: {**لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ** } **الاحزاب**

۵- دعاشوراء روژې ديو کال ګناهونه رژوي. لکه څرنګه چې په هغه حديث شريف کې راځي چې دعاشوراء روژه دتيرشوي کال ګناهونه له منځه وړي.

## د عاشوراء د ورځې تاريخي واقعات:

علماؤ د عاشورا د ورځې مهم واقعات ذکر کړي دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

۱- د آدم عليه السلام پيدايش او د حواء رضي الله عنها پيدايش. الله تعالى فرمايي:**{وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ}المومنون:(۱۲)**

**ترجمه:**بيشکه مونږ پيدا کړ انسان (آدم عليه السلام) له خالصی نرى خټې څخه.

۲- د نوح عليه السلام نجات او په طوفان نوح کې دنوح عليه السلام کشتۍ په جودي غر باندې دعاشورا په ورځ ودريده:{ **وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِن قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ }الانبياء (۷٦)**

**ترجمه:** او همدغه نعمت مونږ نوح عليه السلام ته ورکړ ياد کړه هغه وخت کله چه نوح عليه السلام خپل پروردگار ته آواز وکړ دابراهيم عليه السلام څخه مخکې پس قبوله کړه مونږ دعا دهغه او نجات مو ورکړ هغه ته او دهغه کورنۍ ( پيروانو ) ته د هغه لوی غم څخه .[الجامع لأحكام القرآن]

۳- دابراهيم عليه السلام نجات له اور څخه. لکه چې الله تعالى فرمايلي دي:{ **قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ (٦٩) وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ}الانبياء:٦٩-۷۰**

**ترجمه:** وويل مونږ : ای اوره! يخ شه او سلامتيا والا جوړ شه په ابراهيم عليه السلام باندې .هغوی غوښتل چې ابراهيم عليه السلام ته دسيسه جوړه کړي پس وگرځوی مونږ ټول تاوانيان.

۴- د ايوب عليه السلام څخه دمرض مصيبت په عاشوراء کې لرى شو.الله جل جلاله فرمايي:{ **وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (۸۳) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ}الانبياء: (۸۳-۸٤)**

**ترجمه:**او دايوب عليه السلام واقعه را ياد کړه کله چې آواز وکړه هغه خپل رب ته ( او وه يي ويل : ای زما ربه !) ماته رسيدلی دی مرض او ته دټولو مهربانانو مهربانه يي . مونږ د هغه دعا قبوله کړه او له هغه څخه مو تکليف لرى کړ او هغه ته مو کورنۍ بيرته ورکړله او دهغه دکورنۍ په شان نور.

۵- د موسى عليه السلام نجات او فرعون غرقيدل. الله تعالى فرمايي:**{وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ }البقره:(۵۰)**

**ترجمه:** او ياد کړه هغه وخت کله چې دوه ځاى کړه مونږ په تسو باندې بحر پس تاسو ته مو نجات درکړ د غرقيدونه او غرق مو کړل ملگري د فرعون په داسې حال چې تاسو ورته کتل.

٦- د آدم عليه السلام او دبي بي حواء عليها السلام جنت ته داخليدل په عاشوراء کې شوي دي.

۷- د آدم عليه السلام توبه هم په عاشوراء کې قبوله شوی ده.

په ځينو رواياتو کې راځي چې د قيامت قيام هم دعاشوراء په ورځ رامنځ ته کيږي.

**۸-** دردونکې پیښبه د حضرت رضي الله عنه شهادت په عاشوراء او دکربلا په میدان کې رامنځ ته شوی ده.

هغه پیښه چې د ټول عالم اسلام زړونه یې زخمي کړل؛ داځکه چې دپیغمبرعلیه السلام دلمسي۔ شهادت هغه درد دی چې مسلمان یې نشي تحمل کولای او دقیامت تر ورځې پورې به دغه زخم دمسلمانانو په زړونو کې پروت وي. ددې غم او درد معنا دانه ده چې مونږ له ځانه کیسې جوړې کړو او هغه غیر شرعي ماتمونه ونیسو.

امام ابن حجر رحمه الله دحضرت حسین ابن علي رضي الله عنهم د کیسو په باره کې داسې وایي:

پخوانیو لیکوالانو دحضرت حسین رضي الله عنه دشهادت په باره کې مختلف ډول لیکنې کړي دي چې خوار او چاق ، روغ او ناروغ هرڅه په کې دي.(الاصابة81/2)

**دحضرت حسین ابن علي رضي الله تعالی عنهم اجمعین حقیقي واقعه:**

(کله چې دعراق خلک دحضرت معاویه رضي الله د وفات څخه خبر شول او له دې هم خبر شول چې حسین بن علي رضي الله عنه د یزید ابن معاویه دبیعت څخه انکاري شوی دی، حضرت حسین رضي الله عنه ته یې استازي او لیکونه ورولیږل او له هغه څخه وغوښتل چې عراق ته ورشي ترڅو هغوی ورسره بیعت وکړي او ورته یې ولیکل چې مونږ نه معاویه غوښته او نه دهغه ځوی یزید غواړو او حضرت امام حسین رضي الله عنه ته له پنځه سوو څخه زیات لیکونه ور واستول. په دی وخت کې امام حسین رضي الله عنه مسلم ابن عقیل عراق ته ددې لپاره ولیږه چې حالات درست معلوم کړي او بیا ورته خبر ورکړي. کله چې مسلم ابن عقیل کوفې ته ورسید او ددوی ګرم هرکلی یې ولید په دې متقن شو چې واقعا داخلک حسین ابن علي رضي الله غواړي ، دکوفی خلک ورسره دهانئ بن عروه په کورکې راټول شول او دمسلم بن عقیل سره دامام حسین رضي الله لپاره بیعتونه کول شروع کړل. مسلم ابن عقیل چې دخلکو رغبت ولید حضرت امام رضي الله عنه ته یې احوال ولیږه چې حالات سازګار دي او ورڅخه وغوښتل چې عراق ته ورشي. کله چې یزید بن معاویه ددې څخه خبر شو د بصری والي عبیدالله ابن زیاد ته یې وویل چې ددې خبری علاج ولټوي او دکوفې خلک له خروج څخه منع کړي او دامام حسین رضي الله عنه دبیعت څخه یې راګرځوي خو دحسین رضي الله عنه دوژلو امر یې ورته نه ؤ کړی. ابن زیاد دهانئ ابن عروه کورته ورسید چیرته چې دامام حسین رضي الله عنه دبیعت لپاره خلک په مسلم بن عثیل راټول شوي ؤ ، دمسلم بن عقیل پلویان دابن زیاد څخه راچاپیره شول او هغه یې محاصره کړ ، عبیدالله ابن زیاد دوی دشام په لښکرو وګواښل او ویرول، دمسلم ابن عقیل ملګری وویردل او په شا شول آن تردې چې (۳۰) کسان ورسره پاتې شول؛ لمر لا پریوتی نه ؤ چې دمسلم بن عقیل څخه ټول خلک په شاشول او ابن زیاد هغه اسیر ونیولو او دهغه دوژلو امر یې وکړ؛ مګر مسلم ابن عقیل له ابن زیاد څخه وغوښتل چې ماته دومره فرصت راکړئ چې زه امام حسین رضي الله عنه ته لیک واستوم ابن زیاد یې دا غوښتنه ومنله، هغه امام رضي الله عنه ته احوال واستولو او ورته یې داسې ولیکل: (ارجع بأهلك ولا يغرنّك أهل الكوفة فإن أهل الكوفة قد كذبوك وكذبوني) دخپل اولاد سره واپس وګرځه او دکوفې په خلکو دوکه نه شئ ؛ دکوفې خلکو درته درواغ ویلي دي او ماته یې هم درواغ ویلي دي. بیا ابن زیاد هغه یې دعرفې په ورځ ووژلو.

امام حسین رضي الله عنه د ترویې په ورځ دمکې څخه دکوفې په لور حرکت کړی ؤ ، زیاتو جلیل القدرو صحابه ؤ هغه عراق ته دتللو څخه منع کړ؛ مګر هغه په خپله اراده ولاړ ؤ هغه کسان چې امام حسین رضي الله عنه یې دعراق له سفر څخه منع کاوه نومونه دادي: عبدالله ابن عباس رض، عبدالله ابن عمررض، عبدالله ابن زبیررض او دده ورور محمدبن حنفیه. امام حسین رضي الله عنه لا په لاره کې ؤ چې دمسلم ابن عقیل دتره ځوی خبر ورته ورسید په لاره کې چې د کربلاء په مقام

کې د سورو له خوا محاصره شو چې ددې سورو مشري عمروابن سعد او شمرابن ذي الجوشن –کوله ، امام حسین رضي الله له سپرلۍ ښکته شو او دوی ته درې پیشنهادونه وړاندې کړل ترڅو ددې درې خبرو څخه یوه یې مني :

۱- پرېږدئ چې یزیدابن معاویه ته ورشم او له هغه سره بیعت وکړم.

۲- پرېږدئ چې واپس خپل ځای مدینې منورې ته لاړشم.

۳- یا ددې اجازه راکړئ چې اسلام سنګر ته لاړشم او له کفارو سره جهاد وکړم.(ابن جریربسند حسن)

کله چې حرابن یزید چې ددوی یو قومندان ؤ داخبرې واورېدې دوی ته مخ راوګرځاوه او ورتـه یـې وویـل: ایـا تاسـو دامـام حسین رضي الله عنه داخبرې نه منئ؟

کله چې حرابن یزید پوه شو چې دوی دامام حسین غوښتنې نه مني ، دخپل آس مخ یې ددوی خوا ته وګرځولو او لـه شـمرو ابن ذي الجوشن لښکرو سره یې جګړه شروع کړه ترڅو چې شهیدشو(ابن جریر)

دامام حسین رضي الله عنه مدافعینو زیاته جګړه وکړه او لـه څخـه یـې دفـاع کولـه ؛ مګـر داچـې دامـام حسـین رضي الله عنـه مدافعینو تعداد کم ؤ او ددښمن تعداد زیات ؤ ټول په شهادت ورسیدل.

امام حسین رضي الله عنه چې خپله یې هم زیاته جګړه وکړه. په جګړه کې دکوفې لښکریانو ځان سـاتلو ترڅـو دامـام حسـین رضي الله عنه په وینو یې لاس ککړ نشي؛مګر د شمرابن ذي الجوشن -لعنه الله- له خوا په نیزه باندې ولګید او په زمکه پریوتـه ټول وراندې راټول شول او په شهادت یې ورسولو.) [ابن جریر، البدایة والنهایة]

داهغه څه دي چې په صحیح روایاتو کې ذکر دي او داچې دشیعه ګـانو پـه مصـارو او مراجعـو کـې ذکـر دي چـې اوبـه یـې وراندې بندې کړې وې داسې خبرې ثبوت نه لري.

داسلام مبارک دین دافراط او تفریط ترمنځ واقع دین دی او باید دهغه کارونو څخه ځانونه وساتو چې په اسلام کـې ځـای نـه لري.

**أللهم احشرنامعهم فی زمرة الشهداء وارزقنا أتباع هدی نبینا محمد صلی الله علیه وسلم ، آمین یارب العلمین ، وصلی الله تعالی علی خیرخلقه وعلی آله واصحابه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین .**